# افغانستان آزاد – آزاد افغانستان

**AA-AA**

چو کشور نباشد تن من مبـــاد　　بدین بوم و بر زنده یک تن مــباد
همه سر به سر تن به کشتن دهیم　　از آن به که کشور به دشمن دهیم

www.afgazad.com　　afgazad@gmail.com

| سیاسی | Political |
| --- | --- |



انجنیر سیدعبالقادر


# داشغال تر سیوري لاندي دامنیتي تړون امضاء کول

لومړي برخه : دامنیتي تړون حقوقي څرنګوالي ۰

دوهمه برخه : داشغال په تیرو کلونوکي پرغللګروولي قضایي مصونیت درلودي ؟

دریمه برخه: دامنیتي تړون د قضایي مصونیت په هکله دکرزي او اوباما تر منځ زرګري جګړه ۰

بازار ګرم دي دلوبو نن وجدان پکښي خرڅیږي

داخونه لوي وحشت دي نن انسان پکښي خرڅیږي

دالوبي دغلیم دي زموږ ولس تي لومي ایښي

ژرپاڅي ددې خوبه ، کور دافغان پکښي خرڅیږي






لومړي برخه : دهیوادونو تر منځ ستراتیژیکي او امنیتي تړونونه دنړیوالو قبول سووحقوقو له مخي هغه وخت حقوقي مشروعیت پیدا کولایسي چي دواړه هیوادونه داستقلال لرونکي وي ۰ نه دا چي یو هیواد دبل هیواد تر

پوځي يرغل لاندي راغلي وي ، او دغالب هيواد مشرتابه دخپل ګوډاکي رژيم د مشر تابه سره داسي تړونونه امضا کړي ٠ په حقيقت کي دانو دمغلوب هيواد ديرغمل ولس په وړاندي دبشري اواقتصادي جناياتو څخه ډکه يوه لوبه ده ٠ ځکه نو د هغو سياسي کار پوهانو له نظره چي دافغانستان اوسني حالت ته دملي کتو دزاويي څخه ګوري ، داسي وايي چي : اوباما په افغانستان کي امنيتي او ستراژيکي تړونونه اصلاً دخپل ځان سره امضا کوي ، د ا ځکه چي ددولت مشرتابه ددوي ګوډاکي دي ، او هرڅه چي د امريکا جمهوررئيس غواړي هم هغه سي کوي ٠ له دي کبله نو هيڅ نوع حقوقي مشروعيت لرلاي نه سي ٠له نيکه مرغه په نړيوالو ميدياوو کي هم داسي واقعيتونه ليکل سوي دي چي پورتني کرښو ته دثبوت پوښ ورکوی ٠ زه د نړيوالو ميدياوو څخه څو بيلګي دهغو روشنفکره افغانانو له پاره دلته رانقل کوم چي هغوي دي وحشتناکه اشغال ته چي نه يوازي په سلګونه زره بي ګناه ( ښځي ، ماشومان ، زاړه او ځوانان ) يي په شهادت رسولي او ملي شتمني يي عملاً دچور او چپاول سره مخامخ کړي ده بلکه په دي بي صاحبه هيواد کي دامريکايي ځواکونو شل پټي بنديخاني هم شتون لري ، چي دبګرام دخاصو قوتونو دقومنداني له خواه اداره کيږي ، ( د اسو شتيد پرس د ٩ ــ ۴ ــ ٢٠١١ نيټي دامريکايي سر چينو په حواله ) ٠ اوس هم دبهرنيو دوستانو دپوځي حضور په سترګه ورته ګوري ٠ اوس به دلته څو بيلګي دپورتني مسئلي دبنه و ضاحت له پاره رانقل کړو ٠

ـــ داشغال ددي دولسو کلونو راهيسي دافغانستان هوايي او ځمکني حريم داشغالګرو په صلاحيت او کنترول کي راغلي دي ٠ چي دوي په دي کلونو کي وکړايسواي چي هر ډول کيمياوي ، بيلوژيکي او نوري پرمخ تللي سلاحوي دازمويني له پاره زموږ ودي بي صاحبه وطن ته راوړي او دمملکت په مختليفو برخو کي يي زموږ پر بي ګناه ولس باندي استعمال کړي ، او هم دارنګه دمحلي خلګو او رسنيو په حواله دورځي او دشپي له خواه زموږ دوطن دزيرمو څخه معدني مواد په کانتينرونو او الوتکوکي انتقالوي ، ولي په وړاندي يي تر اوسه څوک پوښتنه نه سي کولاي ٠ د بله طرفه داشغالګروهيوادونواکثره واکمنان دخپلو ناپاکو مخو له پاره دافغانستان مختليفو ولايتونوته د ګوډاکي دولت د ځمکني خبرتيا څخه پرته او بي له اجازي سفر کوي ، دا ځکه چي اشغالګر واکمنان افغانستان ته دخپل ولايت په سترګه ګوري ٠ چي نيژدي مثال يي په تيره اوني کي دکندوز ولايت ته دالمان دصدراعظمي ( انګيلا ميرکل ) سفر وو ، چي دافغانستان چاراواکي هغه وخت په خبر سول ، چي ددي الوتکه په هوايي ډګر کي دکښينا ستو په حالت کي وه ٠ چي ډيرو رسنيو هر ځل پر داسي کړونو باندي تبصري کړي دي ، او بيرته چيتيا اختيار سوي ده ٠ او هم دجمهوري رياست واکمنانو ته دولس په پټه دلسو کلونو راپه دي خواه دامريکا ، بريطانيا او ايران داستخباراتو دميلونونو ډالرو ورکړه يوه آزاد هيواد ته توجيه کيدلايسی ؟ که دااشغا ل نه وي ، نو نه پوهيږم چي اشغال نو ښکرونه او لکۍ لري ؟

ـــ دوال ستريټ امريکايي مجلي د٢٠١٠ کال د اګست د وروستي ګني په يوه برخه کي داسي ليکلي دي : دامريکا داستخباراتو داداري ( سي آي اي ) ځايي رئيس چي دسپايډر په مستعار نامه کار کوي ، له کومي ورځي چي کرزي واک ته رسيدلي ، دافغانستان له حکومت سره کار کوي ٠ او هم دارنګه دسي آي اي دچاراواکو له خولي ليکي ، سپايډر په افغانستان کي د طالبانو درژيم دړنګيدو مخکي له کرزي سره يو ځاي افغانستان ته تللي او هغه مهال چي يوي امريکايي الوتکي په غلطي کي پر هغي غونډي چي کرزي هم پکښي ووبمونه وغورځول ، هم دا سپايډر ووچي دافغانستان راتلونکي ولس مشر يي وژغوري ٠ او ترديِ پيښي څو ساعته وروسته دبن په کنفرانس کي ، دافغانستان دمشر په توګه اعلان کړل سوو ٠

او هم دارنګه دامریکا دمتحده ایالاتو دویکلي سټنډرد د ۲۵ ـ ۳ ـ ۲۰۱۳ نیټې خپروني د ( بنه افغانستان یو بنه ولس مشر ته ضرورت لري ) سرلیک لاندي مقالي په یوه برخه کي داسي راغلي دي : که جمهور رئیس اوباما تر اوسه پوري دافغانستان راتلونکي ولس مشر نه وي انتخاب کړي ، اوس يي وخت رارسیدلي دي چي په کابل کي دامریکا سفیر ته او دسي آي اي رئیس ته وظیفه ورکړي ، چي یو بنه کاندید وپلټي او دهغه حمایت وکړي ۰

ـــ دمارچ پر ۱۳ مه نیټه بناغلي کرزي دهلمند ولایت دلښکرګا ه په ښارکي دهغه محل دخلکو سره دخپلي وینا په یوه برخه کي داسي وويل : امریکایان پوهیږي چي دافغانستان خلکو او دولت ادا درک کړي ده چي دلته جنګ دمعدنونو پرسر باندي دي اوزیاته يي کړه چي په افغانستان کي خارجي قوتونه دخپلو شخصي ګټو له پاره جنګیږي ۰ او هم دارنګه يي وويل چي په هلمند کي ډیري معدني زیرمي وجود لري ، چي دنوي تکنالوژي په جوړولو کي کار ځيني اخستل کیدلايسي ۰ چي قیمت يي نیژدي دري تریلونو ډالرو ته رسیږي ۰ ولي کرزي دلیتیوم او یورانیومو نومونه وانه خستل ، چي په هلمند کي په پراخه اندازه شتون لري ۰

دآزادي دراډیو ۵ ـ ۸ ـ ۲۰۱۰ نیټي په حواله دامریکا ددفاع دوزارت دڅرګندونو له مخي ، افغانستان دلیتیوم دشتون له کبله په نړي کي دونه داهمیت وړ دي لکه عربستان چي دتیلو له کبله اهمیت لري ۰ باید وويل سي چي داموادد په لاسي ټلیفونونو او لیپ ټاپ کي کار ځيني اخستل کیږي ۰

ـــ نیژدي دري کاله مخکي دالمان جمهور رئیس ځکه استعفا ته اړ کړل سوو چي دافغانستان دکندوز په ولایت کي دخپلو سربازانو سره دخبرو په مهال داسي ویلي وه دالمان غوندي یو هیواد ته چي بهرني سوداګریي داقتصاد لویه برخه جوړه وي لازمه ده چي دخپلو اقتصادي غوښتونو له پاره خپل سر تیري په بهر کي دندو ته وګماري ۰ ادا ځکه چي دولس څخه پټ سوي راز يي رسواه کړ ، نو استعفا ته مجبوره سو۰

ـــ په افغانستان کي دګرجستاني عسکرو دشتون له کبله دګرجستان جمهور رئیس ساکا شویلي دخپل ولس دسختو نیووکوپه وړاندي داسي ویلي دي ، موږ ځکه افغانستان ته خپل سربازان لیږلي دي چي زموږ سربازان جنګي تجربو ته ضرورت لري او ادا تجربه په افغانستان کي په ښه ډول زده کولايسي او موږ په افغانستان کي دقوت خاوندان کیدلايسو ( ۵ـ ۹ ـ ۲۰۱۰ ) کلید ۰ دادي وګوري چي پرغلګروته افغانستان د یو لابراتوار او ولس يي دموادو په څیر اهمیت لري ۰

ـــ دامریکا په کانګریس کي ډاکټر ران پا ول د۳ـ ۷ ـ ۲۰۱۰ نیټي باندي دي مشهور سیاست وال ( داوباما سره په لومړي دوره کي دجمهوري خواهانو یو کاندید هم وو ) کانګریس ته یوه بیانیه ورکړله ، واقعیت دادی چي په مقاله کي يي ډیر واقعیتونه نغښتي وه دبیلګي په ډول ، دبیانیي په یوه برخه کي داسي ویلي دي زموږ مشرانو پر عراق باندي دحملي له پاره موږ ته دروا غ وويل او دافغانستان دنیولو له پاره هم موږ خطا ایستلو ۰ آیا موږ ته ددي جنګ دپراخولو په حصه کي یو ځل بیا هغسي درواغ نه ویل کیږي ،لکه په ۱۹۶۰ مه لسیزه کي چي ویتنام دجنګ دپراخولو پر مهال ویل کیدل ۰

ـــ د۲۰۱۲ کال دمی پر ۲۵ مه نیټه د ګاردین دورځپاڼي په حواله ، دامریکا د شیکاګو په ښار کي دناټو دسر مشرزي غونډي په وړاندي په لس هاوو زرو دجنګ ضد فعالینو مظاهره وکړله چي ددوي په منځ کي ډیر داسي سربازان هم وه چي دعراق او افغانستان دجنګ څخه ستانه سوي وه ۰ او ډیرو کسانو په دي مظاهره کي دجنګ ضد بیانیي ورکړلي ۰ ۴ نفرو سربازانو خپل هغه مدالونه چي په دي جنګونوکي يي تر لاسه کړي وه دتالار پرلور وروغوځول ، ددوي دی ډلي څخه یوه سرباز داسي وويل : هیڅ مدال ، نشان او

بیرغ نه سي کولای چې هغه انساني تکلیفونه چې دي جنګ منځ ته راوړي دي پټ يي کړي او فقط په یوه کلمه کي ورته وایم چې شرم دي ، دعراق او افغانستان دخلګو په وړاندي متا سفه یم او بخښنه غواړم ٠ بل سرباز بیا داسي ووېل : زه دا مډالونه نن بیرته ورکوم ځکه غواړم چې دوجدان سره ژوند وکړم نه دا چې دخپل ضمیر بندي سم زه دعراق او افغانستان دخلګو څخه بخښنه غواړم ځکه چې هیوادونه مو ور خراب کړي دي ٠ دلیکني په وروستي برخه کي دملګرو ملتونو دامنیت شورا د۲۰۰۱ دسیپتمبر د۱۲ او ۲۸ مي نیټي د ۱۳۶۸ او ۱۳۷۳ پریکړو لیکونو ته چې امریکاته يي د سیپتمبردتروریستي پیښي په هکله دمشروع دفاع حق ورکړ، په هکله يي لړ څه ولیکو: داشغال په تیرو کلونو کي بهرنیانو ، دګوډاګي رژیم نوکرانو او یو شمیر نور سیاسي ګوندونو ، او یو شمیر روشنفکرانو دخپلو شخصي او ګروپي ګټو له پاره افغانستان اشغال نه بلکه ددوستانو نظامي حضور بللي دي ٠ او رژیم يي هم دامنیت دشورا دپریکړي قانوني پایله بللي ده ٠ په داسي حال کي چې : «کوفي عنان د سیپتمبر په ۲۴ عمومي اسا مبلي ته دخپل کلني راپور دوړاندي کولو په ترځ کي ووېل : چې امریکا ته دنیوپارک دپیښي له کبله رسیدلي تاوان ، داحق نه ورکوي چې دتروریزم سره دمقابلي په پلمه په هر عمل لاس پوري کړي ٠ د ( ای ، بی ، سی ) په یوه تلویزیوني پروګرام کي دیوه امریکایي خبریال ( دیان سویر ) دیوه سوال په ځواب کي ووېل : ( ۰۰۰ د م ، م مخکني پریکړه طالبان دي ته اړکوي چې بن لادین م ، م ته تسلیم کړي ٠ که طالبان دغي غوښتني ته هرکلي نه وايي تر تعزیراتو لاندي به راسي ٠ اما دسیاسي نظام بدلون دافغانانو کار دی نه دبهرنیو قوتونو ٠ ( دمحترم ډاکټر روستا تره کي لیکنه ) » ٠

دیاولو وړ خبره داده چې دملګرو ملتونو دامنیت شورا ددې صلاحیت نه لري چې دخپلي پریکړي په نتیجه کي د یو هیواد حاکمیت نسکوره او په عوض کيي نوي حاکمیت پر ولس باندي تحمیل کړي ، دا ځکه چې داد‌هیوادونو کورني موضوع ده او دملګرو ملتونو دصلاحیت څخه لیري کاردي ، ځکه نو کوفي عنان پورتني خبره کړي ده ٠ بیاهم دبوش اداري دامنیت دشورا د ۱۳۶۸ او ۱۳۷۳ دپریکړو لیکونو څخه په ښکاره سرلغړونه دطالبانو حاکمیت نسکوره او پر ځایي بل امریکا ته وفاداره د پخواني تښتیدلو بشري او اقتصادي جنایتکارانو او یوشمیر په غرب کي دوطن پلورني په روحیه تربیه سوي افغان اصله امریکایي او اروپایي تکنوکراتانو څخه ګډ یو حاکمیت دیوه شرکت په څیر دبي ۵۲ الوتکو په زور دافغانستان پر یرغمل ولس تحمیل کړ ٠ همدا ډول د امریکا تر رهبري لاندي دناتو ځواک د ۲۰۱۲ کال دمارچ پر ۱۹ مه نیټه دامنیت دشورا د مارچ د ۱۷ مي نیټي د۱۹۷۳ پریکړه لیک( په پریکړه لیک کي دلیبیا پردولت باندي دهوايي تحریم لګول وه چې د لیبیا دولت ونه کړايسي پرخپلو مخا لفینو باندي هوايي بمبارد وکړي ) څخه په ښکاره سرلغړونه دلیبیا پر قانوني حاکمیت باندي یرغل وکړ او څو میاشتي وروسته يي دمرحوم قضافي دولت نسکوره او پرځاي يي خپل ګوډاګي رژیم دلیبیا پر ولس په زور باندي تحمیل کړ٠پر افغانستان باندي دامریکا تر رهبري لاندي دناتو دیوځي یرغل ناوړي پایلي نه یوازي افغانانوبلکه نړیوالو هم په خپلو سترګو باندي ولیدلي ٠ ځکه نو افغان سیاسي ملي ګوندونه ، اجتماعي جوړښتونه او ټولو افغان روشنفکران باید په دې حساسو شیبو کي په دې باندي پوه سي ، چې ددې بشري او اقتصادي جنایاتو دوتلو څخه یوازني لاره د سیاسي حل د یو میکانیزم جوړیدل دي چې باید دملي ګټو په نظر کي نیولو سره په یوه بین الافغاني کنفرانس کي جوړ ، تصویب او ملګرو ملتونو اداري ته دیو ټاکلي کمیسون له لاري وسپارل سي ٠ نوربیا ٠

لطفاً هم دا ډول رنګه او دعکسونو سره یي نشرته وسپاري ۰

تمت باالخیر

---

۲۱ــ ۵ ــ ۲۰۱۳